Pukhto.Net
پښتو

# د شیطان تقریر

## طنز و مزاح

عبد الرحیم روغانے

دا مضمون د روغاني بابا د ناچاپه کتاب " خود غرض" نه د لوستونکو

د پاره په درناوي د ډالۍ په توګه د بابا په اجازه وړاندې کوو

مخ پاڼه : پښتو ډاټ نېټ

دامضمون ما دَ خپل ناچاپه کتاب "خودغرض" نه دَ لوستونکو په درناوي کښې دَ ډالۍ په توګه وړاندې کړو ـ روغانیؔ سوات

# دَشیطان تقریر

## (طنز و مزاح)

Pukhto.Net
پښتو

سوچي صېب مائېک ته اودرېدو او څۀ داسې ئې اووې "زما ګرانو سامعينو! هغۀ بله ورځ زۀ په سوچ کښې لاړم ـ او چې سوچ کښې ښۀ ډوب شوم نو دَ خپل خوار، ځوريدلي او لوټلي شوي وطن په يو مېدان کښې راته يوه عظيم الشانه سياسي جلسه په نظر راغله ـ ما هم په دغه سياسي جلسه کښې شرکت اوکړو ـ دغه سياسي جلسه دَ يو داسې مذهبي، ديندار او متشرع شخصيت په مشرۍ کښې جوړه شوې وه کوم چې په حقيقت کښې داسې نه وو ـ دا يو شېطان

وو چې دَ خپل مکر و فرېب او ديرينه تجربه کارۍ په برکت دَ يو عظيم الشان جمِ غفير په راغونډولو کښې په ښهٔ طريقه کامياب شوے وو ـ دا عظيم الشانه جلسه دَ نظم و نسق او نظم وضبط په حواله په هر لحاظ پُوره وه ـ خلق اګرچې په ډېر زيات تعداد کښې راجمع شوي وو خو هيچاته دا پته نه وه چې مونږ دِ يو شېطان مېلمانهٔ يُو ـ يا مونږ دَ يو شېطان تقرير اورېدو له راغلي يُو ـ بلکه دَ هر چا دا خيال وو چې مونږ دَ يو نېک او پارسا انسان په جلسه کښې دَ شرکت دَ پاره راغلي يُو ـ دَ شېطان دَ تقرير نه مخکښې دَ شېطان څو دوستانو دَ خلقو مصروف ساتلو په غرض واړهٔ واړهٔ تقريرونه، شاعري او څهٔ مزاحيه خاکې پېش کړې ـ دَ ناخبره عوامو نه پکښې يو نعت خوان نعت شريف پېش کړو ـ دَ نعت خوان نه وروستو يو ناخبره قاري په تلاوت کلامِ پاک دَ جلسې باقاعده آغاز اوکړو ـ شېطان دَ يو ښکلي ديندار شخصيت په جامه کښې په يو شاهانه انداز کښې مائيک ته اودرېدو ـ دَ دې فرشته رنګ او متشرع ديندار شخصيت په ليدو عوام خاموش او انتهائي متوجه شول ـ

شېطان خپلې ابتدائي خبرې څهٔ داسې شورو کړې" ـ

" ثنا ده هغه الله لره چا چې جهانونه پېدا کړي دي ـ ثنا ده هغه الله لره چا چې په دې کائنات کښې دَ عقل، تدبّر، او هر قسم پوهې پېکر يعنې انسان دَ آدمِ په نوم پېدا کړو ـ بيا ئې دَ آدم دَ ګڅې پوختۍ نه حواّ پېدا کړه ـ بيا ئې دَ دې جوړې نه اولاد پېدا کړو ـ بيا ئې دغه اولاد په مختلفو خېلونو او نسبونو کښې

تقسیم کړو او دَ دې تقسیم غرض دَ غټ کچ په بنیاد نه بلکه په دې غرض چې دَ دوي په پېژندګلو کښې پرې آساني وي ۔ بیا ئې مختلف صلاحیتونه پېدا کړل او په انسانانو ئې تقسیم کړل ۔ په محدوده دائره کښې ئې انسانان خودمختاره کړل ۔ عقل و شعور، خیال، تدبّر، غور فکر، جستجو او داسې ډېرو ذهني صلاحیتونو له ئې په انساني دماغو کښې ځائې ورکړو ۔ الغرض انسان ئې دَ دې قابل کړو چې ځان دَ شېطان دَ مکر و فرېب نه په اعلیٰ طریقه بچ اوساتي ۔ دَ انسان نه علاوه ئې نور بېشمېره برّي او بحري مخلوقات پېدا کړل کوم چې په ذهني صلاحیتونو کښې ټول دَ انسان نه په لکونو درجې کم حیثیت لري ۔ ټوله ثنا الله لره ده" ۔

دَ ابتدائي کلماتو نه پس شېطان خپل اصلي تقریر څهٔ داسې شورو کړو

" زما پخواني سامعینو! زما هغه سلام قبول کړئ کوم چې تاسو په یوبل اچوئ ۔ او زما هغه مینه قبوله کړئ کومه چې تاسو دَ یو بل سره کوئ ۔ زما نیت تاسو ته داسې صفا دے څنګ چې ستاسو یو بل ته نیتونه صفا دي ۔ زهٔ ستاسو داسې خېر خواه یم څنګ چې بعضې نور مشران ستاسو خېرخواه دي ۔ یا داسې لکه تاسو چې دَ یو بل خېرخواه یئ ۔ زهٔ تاسو ته نن هغه رښتیا خبرې کوم ، کومې رښتیا خبرې چې بعضې مشرانو تاسو ته کړي دي او کوي ئې ۔ یا هغه رښتیا خبرې کومې چې تاسو دَ یوبل سره کوئ ۔

ګورئ زما فرمانبردار او قدردانو سامعینو! ډېر داسې سیاسي مشران دي چې زما او ستاسو بېړه ئې په یو ځائې غرقه کړې ده۔ مونږ له پکار دي چې دَ دغسې سیاسي مشرانو نه آئنده دَ پاره ځان بچ اوساتو ۔ ځکه چې دَ دوي دَ لاسه قوم دَ غربت ښکار دے ۔دَ لوږې ښکار دے ۔ دَ جهالت او بیمارۍ ښکار دے ۔ او دا هر څۀ زۀ دَ ځان دَ پاره زیات دَ نقصان او محرومۍ سبب ګنړم ۔ زۀ ستاسو په خدمت کښې دَ دې دَ پاره حاضر شوے یم چې په آئنده انتخاباتو کښې ما په غټ اکثریت سره کامیاب کړئ۔ او ماله دا موقع راکړئ چې دَ زړۀ دَ اخلاصه ستاسو دغه مسئلې په اعلی طریقه حل کړم۔

اوس زۀ غواړم چې تاسو ته خپل تعارف اوکړم ۔ البته دَ تعارف نه مخکښې زۀ ستاسو نه دا وعده اخلم چې خواه کۀ زۀ یو ښۀ شخصیت یم او کۀ بدترین خو تاسو به زما تقریر دَ آخره پورې ضرور اورئ۔ ټولو سامعینو په یو آواز وعده اوکړه۔ کله چې سامعینو پخه وعده اوکړه نو شېطان څۀ داسې اووې "زۀ هغه هستي یم کوم چې ستاسو نیکۀ ته دَ سجدې کولو نه انکار کړے وو۔ او دَ خدائې پاک نافرماني ئې کړې وه۔ دَ دې خبرې سره دَ خلقو په عظیم الشانه اجتماع کښې دَ اعوذبالله یو شور جوړ شو ۔خلق دَ جلسې نه په تېښته شول۔ خو شېطان ورته په لاؤډسپیکر خپله وعده یاده کړه۔ او آخر دَ وعدې دَ ماتېدلو دَ وېرې خلق دَ شېطان دَ تقریر په اورېدلو مجبور شول۔ او واپس په خپل خپل ځائې کښېناستل۔

شېطان اووې "چونکه زۀ شېطان يم او دَ اور دَ ذاته يم او په اور کېنې دَ لمبې دَ ذاته يم ـ په دې وجه زۀ دَ دولت سره هيڅ واسطه او هيڅ رشته نه لرم ـ زۀدولت ته هيڅ قسم احتياج نه لرم ـ دَ دې نه دا خبره په ډاګه ده چې دَ دولت په حواله زۀ بدعنوان (Corrupt) نه شم کېدے ـ او کوم مشر چې بدعنوان نه وي هغه يو ښۀ مشر وي ـ کۀ تاسو زما په خبره پوهه شوي يئ نو تاسو ته به واضحه شوي وي چې زۀ دَ رشوت خلاف يم ـ دَ قوم دَ خزانې نه دَ غلا خلاف يم ـ دَ زخيره اندوزۍ نه خلاف يم او دَ جاګيردار يا سرمايه دار جوړېدو نه خلاف يم ـ په دې وجه زۀ ستاسو يو ښۀ مشر کېدے شم ـ تاسو چې دا ذليله ژوند تېروئ دَ هغې وجه ستاسو بعضې غلۀ او کرپټ مشران دي ـ

ستاسو بعضې غلو سياسي مشرانو ستاسو معاشي او اقتصادي ژوند ته ډېر سخت نقصان رسولے دے چې په نتيجه کښې ئې ستاسو اتيا فيصده خلق ناخوانده او په ذليله ژوند تېرولومجبور دي ـ هر سړے دَ ژوند په فکر کښې داسې ډوب دے چې دَ بل انسان ژړا، فرياد، نصيحت يا شېطانۍ ته ئې فکر نه وي ـ دَ دۀ نه پخپله يو کمزورے شېطان جوړ شوے وي ـ دَ خپل ژوند ښۀ کولو دَ پاره مختلفې شېطاني منصوبې تياروي خو کاميابيږي ځکه نه چې دَ ناخواندګۍ په وجه ئې منصوبې کمزورې وي ـ کوم سړے چې ښۀ اعلیٰ تعليم يافته نه وي هغه ښۀ شېطان نه شي جوړېدے ـ

ستاسو مشرانو تاسو ته دومره نقصان نه دے درکړے څومره چې ئې ماته نقصان رارسولے دے ـ ځکه چې کله دَ غلو مشرانو دلاسه دَ قوم معاشي

حالت خراب شي هغه بيا خپل غم اوژاړي کۀ ماته غوړ شي ـ چې قوم خوار وي نو مستي په څۀ اوکړي ـ شراب کباب په څۀ اوکړي ـ زنا په څۀ اوکړي قتل وغارت، بدماشي، غصب، استحصال او نور داسې دَ توريالو، ننګيالو او بريالو زلمو غوندې کارنامې پۀ څۀ اوکړي ـ خواره معاشره په خپل غم کښې دومره مصروفه وي چې زما ډېر نصيحتونه اورېدل ترې قضا کيږي ـ او دغه زۀ خپل نقصان ګڼم ـ ستاسو بعضې غلو مشرانو ستاسو معاشره جاهله ساتلي ده او خپلې کورنۍ ئې اعلیٰ تعليم يافته جوړې کړي دي ـ په دې وجه زۀ په دغه دولتمنده تعليم يافته طبقه کښې ډېر ښۀ کار ايستے شم خو دَ افسوس خبره دا ده چې دَ دغې طبقې تعداد دَ باقي قوم په نسبت په وړو کښې دَ مالګې برابر دے ـ دغه وجه ده چې زما منصوبه خاطرخواه نه کاميابيږي ـ کۀ چرې ستاسو معاشره ټوله تعليم يافته شي نو بيا خو ښکاره خبره ده چې زما منصوبې به ښۀ کاميابې وي ـ جاهل او ناخوانده خلق زما شېطاني ښۀ په اسانه او خوشحالۍ قبلوي خو زما دَ منصوبې په خاطر خواه کاميابۍ کښې لاس نه شي کولے ـ ځکه چې کۀ يو جاهل سړے زما په شېطانۍ عمل اوکړي نو فائده ئې صرف دغه جاهل سړي ته رسي ـ ماته ترې څۀ فائده نه رارسي او کۀ يو تعليم يافته سړے زما په شېطانۍ عمل اوکړي نو زما شېطاني منصوبې ته ترې ډېره زياته فائده رسي ـ دَ هغې وجه داده چې دَ جاهل سړي شېطاني غېرسائنسي وي ـ په دې وجه دا يوه ښکاره شېطاني وي او کله چې داقسم ښکاره او بې پردې شېطاني دَ خلقو په نظر شي نو خلق ترې سخت نفرت اوکړي او هرڅوک بيادَ دې قسم شېطانۍ نه ځان ساتي ـ

يعنې دَ جاهل سړي شېطاني په قوم کښې دَ شېطانۍ نه نفرت پېدا کوي ـ دَ تعليم يافته سړي شېطاني کۀ يو طرفته هغه ته او دَ هغه خاندان ته فائده رسوي خو بل طرفتهترې زما شېطاني منصوبو ته هم ډېر خېر رسي ـ دَ هغې وجه داده چې دَ تعليم يافته سړي شېطاني سائنسي شېطاني وي۔ په معاشره کښې ډېره په تېزۍ سره خپلې زېلې خوروي ـ دغه شېطاني دَ حکمت او پوهې په ذريعه په داسې رنګين لباس کښې نغښتے شوې وي چې ښکاري نېکي او وي شېطاني۔
زما دَ شېطاني منصوبو دَ تکميل دَ پاره علمي او دولتمنده معاشره انتهائي ضروري ده البته يو شرط پکښې ضروري دے او هغه دا چې په تعليمي ادارو کښې تعليمي نصاب زما شاګردانو يعنې دَ شېطاني ذهنيت خاوندانو جوړ کړے وي۔ دَ يو شېطان دَ شېطاني منصوبو دَ تکميل دَ پاره کۀ جاهله معاشره ضروري ده خو دَ دغه جاهلې معاشرې نه زياته ښۀ او بهتره معاشره هغه تعليمي معاشره ده کومه چې دَ يو شېطاني تعليمي نصاب پېداوار وي۔ دَ انسان نه په شېطان جوړولو کښې تعليمي نصاب ډېر اهم کردار ادا کوي ـ دَ شېطاني نصاب پېداوار تعليم يافته خلق زما هغه ورونه دي کوم چې په شېطاني فرائضِ منصبي کښې زمانه هم زيات اهم خلق دي ـ بلکه بعضې وخت کښې زۀ دَ هغوي په وړاندې دَ يو شاګرد په شکل ښکاره شم۔

پخوا زمانه کښې تعليم دَ نيشت برابر وو ـ په دې وجه به ما او زما نورو شېطانانو شاګردانو په جاهله معاشره ګوزاره کوله۔ نن دور تعليمي دور دے په دې وجه زما کوشش دے چې تعليم دې عام شي۔زما اِراده ده چې کۀ په اليکشن

کښېِ کامیاب شوم نو زۀ به علمي ادارو جوړولو ته ترجیح ورکوم ـ او دَ نصاب جوړولو دَ پاره به هغه شخصیات مقرره ووم کوم چې ماته دَ وړاندې نه معلوم دي دَ دغه شخصیاتو پلارانو نیکونو هم زما سره ډېره مرسته کړې وه ـ زما تجربه دا ده چې کوم موروپلار زما وفادار او فرمانبردار پاتې شوي دي دَ هغوي اولاد بیا دَ څۀ قسم نصیحت محتاج نه وي ـ هغوي ارومرو زما په نقشِ قدم چلیږي ـ تر څو چې ما مشران نه وي ګمراهه کړي زۀ کشران خاطرخواه نه شم ګمراهه کولے ـ زۀ په خلقو کښې دَ حلالیانو او حرامیانو قائل نه یم ـ البته چې حرامیان وي هغوي زما نسبتاً زیات فرمانبردار وي ـ

کله چې زۀ معاشره تعلیم یافته کړم نو معاشره به په معاشي لحاظ ډېره زیاته ښه شي ـ اوس به دغه معاشره زما نصیحتونو ته ځکه دَ توجه قابله شي چې دَ غربت دَ سوچونو فکرونو نه به فارغه وي ـ او زما دَ منصوبو دَ پاره به یو ښۀ بنیاد ثابت شي ـ زما فرمانبردارو روڼو ! هغه زمانه تېره شوېده چې خلقو به شېطان ته ډېر په بد نظر کتل ـ او شېطان به ئې خپل بدترین دشمن ګڼلو ـ دَ هغې وجه دَ خلقو سادګي او دَ بعضې حقیقتونو نه ناخبري وه ـ اوس نوې ترقي یافته زمانه ده ـ خلق په دې پوهه شوي دي چې زمونږ دَ ښۀ ژوند دَ پاره شېطان او دَ هغۀ تعلیمات انتهائي ضروري دي ـ دَ نن پوهه خلق هاغه رښتیا او هغه دروغ وائي دَ کومو نه چې شر پېدا کیږي ـ او هغه دروغ او هغه رښتیا ډېر کم وائي چې دَ خېر سبب کیږي ـ ځکه چې خلق پوهیږي چې اوس په شر کښې خېر دے او په خېر کښې شر دے ـ

خدائې پاک فرمائي چې دَ خلقو په مېنځ کښې صلحه کوئ خو دَ نن خلقو دا خبره معلومه کړېده چې دَ صلحې په کار کښې اکثر مُصلح سَر خوري۔ یا ورته نور نقصان رسي دَ هغې وجه دا ده چې صلحه په خدائي معاشره کښې دَ خېر سبب کیږي۔ په شېطاني معاشره کښې شېطانت په کار رائي۔ شېطان دَ ژوند دَ هرې شعبې خلقو له دَ ژوند سامان تیاروي۔ او دَ خلقو دَ ښکلي ژوند دَ پاره ذرائع لټوي۔ کۀ شېطان نه وے وکیل به څۀ خوړل حفاظتي ادارو به څۀ خوړل۔ ډاکټرانو، سرجنانو، چاپلوسانو او هجړاګانو به څۀ خوړل الغرض دَ ژوند هره شعبه به ډېره بده بده متاثره شوې وه۔ دَ نن ترقي یافته زمانې دَ پاره شېطانت انتهائي ضروري شوے دے۔ جنګونه ډېر شویدي چې دَ دروغو نه بغېر نه کیږي۔ طاقتور ملکونه دَ کمزورو ملکونو وسائل قبضه کول غواړي چې دَ دروغو او منافقت نه بغېر دَدغه مقصد حصول ناممکن دے۔ کارخانې ډېرې شویدي چې مصنوعات خرڅول ئې دروغو او چالاکۍ ته اړتیا لري۔ داسې ډېرې بېشماره مسئلې دي چې دَ شېطاني تعلیماتو دَ زدکړې نه بغېر نه حل کیږي۔

دَ سیاست، طریقت، قیادت، محبت، اخوت، قرابت، وغېره وغېره دَ پاره اوس شېطانت ډېر اهم او پوخ بنیاد ګرځېدلے دے۔ او اوس خو هغه وخت لرې نه دے چې پۀ تعلیمي ادارو کښې به شېطاني دَ لازمي مضمون په حیثیت لوستل شورو شي۔

زما فرمانبردارو وروڼو! کۀ تاسو په الیکشن کښې ماله په اخلاص ووټ راکړو او زۀ مو کامیاب کړم نو زۀ به ستاسو دَ دې وطن نه یو داسې جنت جوړ کړم چې

دَ خدائ پاک جنتیانو به په سترګو نه وي لیدلے ـ کلي په کلي به ښائسته ښائسته پارکونه، دَ سیاحت ځایونه نهرونه او دَ نهرونو په غاړو سدابهار ونې، دَ ونو لاندې دَ سېلانیانو دَ آرام ښکلي ځایونه، شراب خانې، په شراب خانو کښې دَ مختلفو ملکونو حسینانې او دَ پخلي ښائسته ښائسته پېغلې او لکه دَ دېوانو غټې غټې صحتمند ځلمي ـ دَ جوارۍ دَ پاره ښائسته ښائسته دَ آرام ځایونه ، او په غټو محلونو کښې معیاري چکلې او داسې نور دَ عیاشۍ هغه معیاري ځایونه به تاسو له تیار کړم چې ټول عمر به درته زۀ په ذهن کښې یم او خدائ به درنه بیخي هېر وي ـ دَ نن ځلمي او پېغلې ما په دې خبره پوهه کړي دي چې دّ ښکلي او مست ژوند دَ پاره دَ خدائ هېرول انتهائي ضروري دي ـ په دې لړ کښې صرف او صرف شېطان هغه هستي ده کومه چې تاسو ته ستاسو دَ خوښې ژوند درکولے شي ـ

زما فرمانبردارو وروڼو! شېطانان په دوه قسمه دي ـ یو قسم شېطانان دَ پېریانو دَ ذاته دي ـ لکه زۀ ـ او دویم قسم شېطانان دَ انسانانو دَ ذاته دي لکه دا بعضې سیاسي مشران یا فرقه پرست پیران او مُلیان ـ دَپېریانو دَ ذاته شېطانان هغه دي چې دَ هغوي په تعلیماتو کښې دَ عمل کولو سره دَ انسان ژوند دَ عېش، مستۍ نه ډکیږي ـ او دَ انسانانو دَ ذاته شېطانان ډېر خطرناک ځکه وي چې دَ هغوي په تعلیماتو دَ عمل کولو سره دَ انسان دُنیاوي زندګي دَ ذلت او تباهۍ سره مخ کیږي ـ او چې کله انسان دَ انساني او پېرياني دواړو شېطانانو په ګوتو کېوځي نو دنیا او آخرت ئې دواړه تباه شي ـ زما تاسو ته دا نصیحت دے چې دَ

پېرياني شېطانانو تابعدار او فرمانبردار شئ او دَ انساني شېطانانو نه ځانونه اوساتئ ځکه چې هغوي تاسو دَ غربت ښکار کوي او غريبه معاشره زۀ دَ ځان دَ پاره چندان ښۀ نه ګنړم.

کۀ چرې تاسو غواړئ چې زمونږ ژوند دې ښکلے شي، دَ عياشۍ شي، دَ مستۍ شي نو زما تابعدار شئ، ماله ووټ راکړئ. کۀ تاسو دَ خپلې دنيا او آخرت په تباهۍ رضا يئ نو انساني شېطانانو له ووټ ورکړئ. او کۀ وايئ چې دنيا او آخرت دې دواړه زمونږ ښائسته شي نو هغه چاله ووټ ورکړئ چې تاسو ته معلوم وي. ماته خو هغه خلق پخوا معلوم وو خو نن مې په نظر نه دي راغلي.

زما فرمانبردارو ورونړو! ما خدائ پاک ته وئېلي وو چې زۀ به ستا انسانان ستا دَ لارې نه اړووم دَ بزدل انسانيت نه به ئې اوباسم دَ جنګ، ربړو، ننګ، غېرت، او توزنۍ جوهر به پکښې پېدا کوم. اوس زما دغه کارونه بعضې سياسي مشرانو سر ته اورسول. په دې خبره زۀ انتهائي غمګين شوے ځکه يم چې زۀ ئې کُوز ښکاره کړم. حال دا دے چې زۀ فطرتاً په خپل سر لپاسه سر نه منم. زۀ ځان له شېطانان ملګري پېداکوم خو هغوي خپل ماتحت ګنړم. او ستاسو بعضې مشرانو دَ خپل کردار په وجه ځانونه داسې ثابت کړل لکه دوي چې مشران وي او زۀ کشر يم. بس هم دغه خبره ده چې زما حيثيت ته ئې سخت نقصان رسولے دے. خو بيا هم زۀ دَ انتقام مضبوطه جذبه او بې شمېره هنرونه لرم. ما دغه مشرانو ته بدمعاشي دَ عزت کار ښکاره کړو. حال دا دے چې بدمعاشي دَ اولسي مشرانو سره ښه نه ښکاري. بدماشي خو دَ عامو بې ضميره او بې تعليمه خلقو کار دے.

دَ یو مشر دَ ناستې پاستې انداز بارعبه وي. او ګفتار ئې شریفانه او مشفقانه وي. دَ هغهٔ هره خبره منلے کیږي. په دې وجه هغهٔ بدماشي دَ سره پېژني نه. ځکه چې په سوونو بدمعاشان دَ هغه په محفل کښې هغه ته لاس په نام او تابعدار ولاړ وي.

کله چې ما دغه بعضې مشرانو ته بدمعاشي ښه ښکاره کړه نو هغوي بدمعاشي شورو کړه او خپل عظیم حیثیت ئې اوبائېلو. اوس ترې عام خلق نفرت کوي. او چا چې دَ خلقو زړونه بائېللي دي هغوي دَ خپلو مشرانو عزت او عظمت بائېللے دے.

زما پېروکارو غېرتمندو وروڼو! دَ پخوا راسې په انسانانو کښې دَ شېطان نوم ډېر بدنام رارروان دے. چې زهٔ ئې دَ انسانانو بدقسمتي ګڼم. دَ شېطان دَ بدنامۍ دَ پاره قسم قسم کوششونه شوي دي خو بیا هم دغه کوششونه دومره کامیاب شوي هم نه دي چې دَ شېطان یعنې زما او زما دَ ملګرو په شمېر کښې ئې خاطر خواه کمے راوستلے وي. دَ هغې وجه دا ده چې زما ټول نصیحتونه دَ کائناتي فطرت او انساني فطرت مطابق دي. زما هره خبره مظبوط دلائل لري. زما نظریات په کمزورو دلائلو نه دي ولاړ. ښګ چې الله پاک اعتدال خوښوي. زهٔ هم اعتدال خوښوم. زهٔ غواړم چې دَ اعتدال په حواله تاسو ته دَ خپلې نظریې وضاحت وکړم او هغه داسې چې دَ ژوند په تمامو امورو کښې دَ نېکۍ او بدۍ نسبت تناسب داسې ساتل چې خپل ذات ته ترې خوشي ، راحت او مستي په لاس راځي دې ته اعتدال وائي. خدائ پاک انسان په سلو کښې

پینځه کم سل لغړ پیدا کړے دے ـ په دې وجه زۀ دا وایم چې دَ انسان خېر او ترقي په دې کښې ده چې دے دې په سلو کښې پینځه کم سل لغړ اوسي ـ نه کم نه زیات ـ تاسو وینئ چې هغه خلق دَ ترقۍ او خوشحالۍ ژوند کوي څوک چې دَ شرم، حیا او دَ پردې طرفدار نه دي ـ او دا ځکه چې هغوي په دې پوهه دي چې حیا سل په سل فطري څیز نه دے ـ یعنې په فطرت کښې دَ حیا عنصر شته دے خو ډېر کم ـ یعنې په وړو کښې دَ مالګې برابر ـ دَ دې مطلب دا دے چې په هر عمل کښې بدي زیاته او نېکي کمه پکار وي ـ او هم دغه وجه ده چې هر ښائست خپل اظهار په لږه حیا او ډېره بې حیایۍ کښې خوښوي ـ کۀ چرې دَ چمن ګلونو حیا پرده کولے نو دَ ګلونو به هیڅ حیثیت نه وو پاتې ـ دَ دې مطلب دا دے چې په هر څۀ کښې پینځه کم سل حصې شېطانت او باقي پینځه حصې صداقت ضرور پکار وي ـ کۀ داسې نه وي نو دَ هغه څیز فائده، اهمیت او ښائست به کم او غېر معیاري وي ـ کۀ یوه فلمي جینۍ په ګُور لباس کښې اداکاري کوي نو هیڅ مزه به ئې نه وي ـ خو کۀ دا صرف په خپلو شرمګاهُونو نرۍ پرده راولي نو دَ دې په کشش او ښائست کښې به بې انتها زور پیدا شي ـ ځکه چې دَ زیاتې بدۍ سره به ئې معمولي نیکي شامِله کړې وي ـ کۀ چرې دغه اداکاره په مکمل لغړ شکل کښې اداکاري کوي نو په کشش او جذب کښې به ئې ډېر زیات کمے راځي ـ دَ دې وجه دا ده چې هر څیزاعتدال غواړي یعنې نه مکمل حیا پرده او نه مکمل لغړ ـ په هره بدۍ کښې معمولي غوندې نېکي دَ بدۍ خوندونه یو په لس زیاتوي ـ معمولي غوندې پرده په ښائست کښې بې انتها اضافه راولي ـ

اعتدال په اصل کښې دَ متضادو قوتّونو، عناصرو یا کردارونو باهمي روغې جوړې ته وائي. په کومه معاشره کښې چې دَ بدۍ سره معمولي غوندې نېکي نه وي دَ هغې ژوند ژواک بې مزې وي. په یو غټ دام کښې یوه وړه غوندې دانه دَ ښکاري دَ کامیابۍ ضمانت وي. په کومو خبرو یا تقریر کښې چې په سلو کښې پینځه حصې رښتیا نه وي، دغه خبرې یا دغه تقریر بې اثره وي.

دَ انسان په حقله خدائ پاک فرمائېلي دي چې انسان ضعیف یعنې کمزورے دے. دَ دې مطلب دادے چې په کوم عام انسان کښې نېکي بدي دواړه موجود نه وي هغه انسان نه شي کېدے. هغه صرف یوه فرشته کېدے شي دَ چا په ژوند کښې چې هیڅ خوند مزه په نظر نه راځي. یا پېغمبران کېدے شي څوک چې دنیاوي لذتونو او راحتونو ته څهٔ حاجت نه لري. عام انسانان دَ ژوند نه دَ خوندونو پورته کولو په غرض دَ بدۍ رسۍ کلکه نیسي. دَ هغوي په رښتیاوو کښې دروغ او په دروغو کښې رښتیا ضرور شامِل وي. دَ انسان استحکام په دې کښې دے چې دے دې مکمل پاک انسان نه وي ځکه چې هر سُوچه څیز غېر معیاري وي. زرګر دَ مکمل سُوچه زرو نه زېورات نه شي جوړولے. ژبه چې سُوچه پاتې شي او دَ نورو ژبو الفاظ خپل نه کړي، دغه ژبه پسمانده ګڼلے شي. دغه حال دَ کلتور هم دے.

دَ ژوند ټولې خوشحالۍ دَ اعتدال نه چاپېره چُورلي. کوم سړے چې دَ لږ حیاناک سره سره زیات بې حیا نه شي هغه دَ ژوند په امورو کښې ډېر کمزورے وي. نه هغه تقریر کولَے شي. نه جرګه مرکه او نه مناظره کولے شي.

دَ ترقي يافته ژوند دَ پاره دَ انسان بې حيا کېدل انتهائي ضروري دي ـ بعضې خلق داسې شته چې حيا کوي او دغه خلق زهٔ ډېر زيات ځکه خوښووم چې دَ هغوي په حيا پرده کښې شېطانت پټ شامل وي ـ چې دَ هغوي شخصيت ته ښکلا بخښي ـ بې حيائي او بې پردګي په انسان کښې خود اعتمادي پېدا کوي ـ او دا قسم خود اعتماده خلق دَ خپلو غټو غټو کارنامو په وجه دَ شېطان په نېکنامئ کښې ډېر لاس کوي ـ او هغه وخت لرې نه دے چې خلق به شېطاني دَ کامياب ژوند دَ پاره ضروري عنصر اوګڼي ـ او دا صحيح خبره ځکه ده چې دَ ژوند رنګيني او ګرما ګرمي دَ شېطان په برکت قائمه ده ـ کهٔ شېطان نه وے نو دَ ژوندو دې دنيا به دَ ګورستان منظر پېش کولو ـ

زما خوږو او تابعدارو ملګرو! کله چې دَ اتلسمې صدئ نه پس سائنسدانان دَ ايټم (Atom) په ماتولو کښې کامياب شول نو په ما ځهٔ ويره غوندې راغله ځکه چې ماته خو معلومه وه چې په دې کښې دَ انسانانو دَ پاره داسې فائدې دي کومې چې به زما شېطاني منصوبو ته سخت نقصان اورسوي او دغه نقصان به يواځې زما شېطاني منصوبو ته نه رسي بلکه دَ انسانانو دنياوي ژوند به هم بې خونده کړي ځکه چې دَ انسان دَ ژوند خوندونه دَ شېطاني منصوبو په برکت قائم وي ـ په دې وجه ما په ډېرو کوششونو او دَ خپلو خاصو ملګرو په مدد سره دَ سائنسدانانو ذهنونه ايټم بم طرفته راواړول ـ او سائنسدانانو ته مې دا ثابته کړه چې ايټم بم يوه ښهٔ اسلحه ده ـ حال دا دے چې ايټم بم دَ اسلحې په تعريف کښې قطعاً نه راځي ـ دَ اسلحې تعريف دا دے چې

هر هغه څیز یا اوزار په کوم چې تهٔ خپل یو دښمن قتلولے شې یا پرې دَ دښمن نه ځان محفوظ کولے شې، اسلحه ده ـ بل طرفته ایټم بم دَ دښمن سره سره نور بې شمېره بې ګناه انسانان، حېوانات، مارغان،سمندري حیات او انسان دوست بېکټېریا ټول تباه کوي ـ په دې دلیل ایټم بم، زلزله، طوفانونه، شهاب ساقب او سېلاُبونو وغېره ته قطعاً اسلحه نه شي وئېلے ـ څوک چې دا قسم دَ عالمي تباهۍ څیزونه پکارَوي او دې ته اسلحه وائي هغه زما دوستان دي او دا ځکه چې دا قسم خلق دَ ابادۍ په کمولو کښې ډېر لاس کوي او دَ دنیا نه په جنت جوړولو کښې غټ کردار ادا کوي ـ زهٔ دا قسم خلق او دَ دوي پېدا کرده حالات ډېر زیات خوښووم ـ

زما فرمانبردارو او تابعدارو وروڼو! دا خبره تاسو ته یو ځل بیا کوم چې الله تعالیٰ تاسو ته خبردارے درکړے دے چې شېطان ستاسو ښکاره دښمن دے ـ او دا ئې درته هم ښودلي دي چې شېطانان په پېریانو کښې هم دي او په انسانانو کښې هم ـ اوس تاسو ماته ښکاره دښمن وایئ او دَ هغه انساني شېطانانو سره دښمني نه کوئ کوم چې ستاسو هم ښکاره دښمنان دي هم پټ ـ یعنې زما نه زیات ـ بلکه تاسو خو دَ انساني شېطانانوسره دوستي کوئ ـ دَ هغو چاپلوسۍ او خوشامدګیرۍ کوئ ـ دَ هغوي په وېنا خپل ورونه او دَ خپلې طبقې خلق وژنئ او دَ ځینو سیاسي شېطانانو په بدعنوانۍ او غلا غلتۍ پردې اچوئ ـ دَ قوم په لوټلو کښې دَ هغوي مرستې کوئ ـ په عدالتونو کښې دَ هغوي په حق کښې دروغ ګواهۍ ورکوئ ـ دَ هغوي په قتل و غارت، غصب استحصال او

نورو ناوړه کردارونو دَ پردې اچولو په غرض په محکمهٔ قضا کښې دَ هغوي وکالت کوئ۔ زهٔ ستاسو نه اګرچې ډېر خفه نه یم ځکه چې تاسو زما مکمله نافرماني چرې نه ده کړې۔ زهٔ دا منم چې تر ډېره حده تاسو زما همدرد یئ ځکه چې تاسو دَ حج په دوران کښې ما په وړو وړو ګیټو وَلئ او په خپلو کښې یو بل په کلاشنکوف او نورو خطرناکو ټوپکو ولئ۔ زهٔ ستاسو دَ دې همدردۍ داسې شکریه ادا کوم څنګ چې دَ برطانئې حکومت په دکن کښې دَ میرصادق او په بنګال کښې دَ میرجعفر شکریه ادا کړې وه۔ البته په دې خبره ستاسو نه سخت خفهٔ یم چې تاسو ماته دښمن وایئ۔ او خپلو انساني شېطانانو ته او خصوصاً خپلو بعضې سیاسي شېطانانو ته چرې هم دښمنان نه وایئ۔ حال دا دے چې زهٔ په سل کښې څلوېښت حصې ستاسو دوست یم۔ او انساني شېطانان سل په سل ستاسو دښمنان دي۔ زهٔ کهٔ ستاسو دَ آخرت څهٔ خیال نه ساتم خو بل طرفته ستاسو دنیاوي ژوند دَ عېش، مستۍ او آزادۍ نه ډکول غواړم۔ هرکله چې انساني شېطانان ستاسو دنیا او آخرت دواړه تباه کول غواړي۔

زهٔ خو بار بار تاسو ته په اشارو، کنایو کښې وایم چې دنیا درله زهٔ ښائسته کوم البته دَ آخرت سره مې ستاسو څهٔ کار نشته۔ زما دا خواهش دے چې دنیا تاسوله داسې ښکلې کړم څنګ چې کله کله زهٔ ستاسو خوبونه ښکلي کوم۔ خو دَ حالاتو دَ جائزې نه او ستاسو دَ ایمانونو دَ اندازې نه ماته داسې معلومېږي چې ستاسو دین دنیا دواړه دَ تباهۍ ښکار دي۔ ځکه چې ستاسو بدقسمتي دا ده چې دَ مکروفرېب او منافقت په حواله ستاسو په انساني

شېطانانو زما پېرياني شېطانان ډېر کمزوري دي ـ کۀ زۀ تاسوله دَ جائېداد ، بنګلو، موټرو او عزت زياتولو دَ پاره لمسه درکوم نو هغوي تاسوله دا لمسه درکوي چې دا څيزونه فاني دي ـ په دې څيزونوپسې مه ورپسې کېږئ ګني نو آخرت به مو تباه شي ـ تاسو دَ هغوي په وېنا منع شئ او هغوي دغه څيزونه خپل ځان له حاصل کړي او خپل ژوند پرې ښکلے کړي ـ

ستاسو په حالت ماله ډېر افسوس په دې خبره راځي چې نه تاسو دَ خدائې پُوره ملګري پاتې شوي يئ اونه دَ پېرياني شېطانانو پوره ملګرتيا کوئ ـ بس صرف او صرف دَ انساني شېطانانو تابعداري او فرمانبرداري مو اختيار کړېده ـ اوس زۀ هم هېران يم چې ستاسو په حق کښې کومه لار اختيار کړم ـ

ګورئ زما ساده او وفادارو ملګرو! دَ يو خدمتګار په حواله دا خبره هيڅوک نه کوي چې زما خدمتګار مُسلم دے کۀ غېرمُسلم ـ خدمتګار دَ هر مذهب او دَهري فرقې چې وي، هغه يو خدمتګار وي ـ البته ښۀ خدمتګار هغه وي کوم چې په خدمت کښې دَ سستئ او کوتاهئ نه کار نه اخلي ـ او بل دا چې هغه غل نه وي ـ اوس کۀ تاسو غور اوکړئ نو ستاسو دَ پاره دغه قسم خدمتګار صرف او صرف زۀ کېدے شم ـ زۀ په دې خبره الله ګواه کوم چې ما په خپل ټول ژوند کښې نه رشوت اخستے دے نه مې ورکړے دے ـ نه مې دَ چا نه روپۍ، پېسه پټه کړېده ـ نه مې په خپلو لاسو دَ چا قتل کړېدے ـ نه مې چرته ناجائز سفارش کړے دے ـ نه مې په منبر دَ دروغو، توهم پرستئ، مذهبي منافرت او

فرقه پرسۍ ډکه خطبه ورکړې ده ـ او نه مې دَ چا مال، جائېداد او دولت قبضه کړے دے ـ نه مې چا انسان ته سجده کړېده ـ او نه مې دَ الله نه علاوه دَ بل چا غلامي قبوله کړېده ـ اوس ستاسو خوښه ده چې ووټ ماله راکوئ او کۀ هغه چاله چا چې دا هر څۀ کړي دي ـ

زما تابعدارو، وفادارو او فرمانبردارو ملګرو ـ زۀ تاسو ته دَ خپل نصيحت بعضې خبرې ځکه بار بار تکراروم چې دا يوه نفسياتي طريقه ده چې اوس اوس ستاسو ماهرينِ نفسيات هم معلومه کړېده او هغه دا چې کومه خبره چاته بار بار مخې ته کېښودے شي نو دَ اورېدونکي په ذهن کښې دَ دغه خبرې يا نصيحت دَ قبوليت امکان زيات شي ـ په دې وجه زۀ تاسو ته دا خبره بيا کوم چې په جاهله معاشره کښې زما نصيحتونه ډېر په اسانه اثر کوي خو په جاهله معاشره کښې دا صلاحيت نه وي چې دغه نصيحتونه په نورو خلقو کښې يا په نورو قومونو کښې خوارۀ کړي ـ په دې وجه ما دا اراده کړېده چې يو خو دې دَ تعليم عام کولو کوشش اوکړم او بل دې په ديني عالمانو، سائنسي عالمانو، شاعرانو اديبانو، سياسي کارکنانو او فلاسفرانو کښې کار ته تيزي ورکړم ـ ځکه چې په دې خلقو کښې کوم کسان زما ملګري شي هغوي ته بيا ترمرګه زما ضرورت نه پېښيږي ـ دا قسم خلق اول زما شاګردان وي او بيا زما استاذان شي ځکه چې دَ شېطانۍ ډېرې حربې بيا زۀ دَ دوي نه زده کوم ـ او هم دا خلق دي چې دَ دوي په ذريعه زۀ تاسوله دا دنيا جنت کولے شم ـ او تاسو ته هغه خپلواکي درکولے شم دَ کومې په برکت چې به نارينه دَ ښځو او ښځې دَ نارينوو ژوند ته دَ

رنګيني بخښلو جوګه شي ـ او دَ دې نوموړو پوهانو په ذريعه به زهٔ تاسو ته ثابته کړم چې اطمينان دَ خدائې په طاعت کښې دے کهٔ زما په اطاعت کښې ـ دا هغه خلق دي چې زما معمولي غوندې نصيحت ته دَ ودې او خېرازې داسې لباس واغوندوي چې بيا ورته زهٔ حق حېران ګوته په خلهٔ يم ـ دَ مثال په طور کله چې سائنسدانانو لاؤډ سپيکر ايجاد کړو نو دغه لاؤډ سپيکر ترقي يافته قومونو په غټ سائز کښې دَ خپلو غټو غټو جلسو او اجتماعاتو دَ پاره په کار راوستو ـ په وړوکي سائز کښې ئې دَ ريډيو ،ټيپ ريکارډر وغېره دَ پاره په استعمال کښې راوستل ـ او په خپلو عبادت خانو کښې ئې داسې ووړې لاؤډ سپيکرې اولګولې چې دَ مذهبي مشر دَ خطبې آواز پکښې صرف په عبادت خانه کښې دننه خلقو اورېدے شو ـ دَ عبادت خانې نه بهر چا خطبه يا شور نه شو اورېدے ـ

بل طرفته مسلمانانو غټې غټې لاؤډ سپيکرې دَ خپلو خپلو جماتونو په منارو کښې دَ څلورو څلورو پېنځوو پېنځوو په شمار اولګولې مسلمانان تر نن ورځې پورې دغه غټې لاؤډ سپيکرې دَ آذان او خطبې دَ پاره استعمالوي ـ دَ هرې جمعې په ورځ په هر ښار او قصبه کښې په سوونو جماتونو کښې دَ خطبو يو داسې شور جوړ وي چې دَ جماتونو نه بهر خلق نه پوهيږي چې دا څهٔ وئيلے کيږي ـبس يو شور يوه غوغا جوړه وي ـ هر ښار دَ قديم دؤر دَ مېدانِ جنګ نقشه پېش کوي ـ دَ زړهٔ مريضان، ذهني مريضان،دَ معدې مريضان او نور قسم مريضان دَ دغه شور نه سخت په تکليف کښې پراتهٔ وي ـ

دغه خطبې دَ جماتونو دننه خلقو دَ پاره خطبې وي خو دَ بهر خلقو دَ پاره دَ شور آلودګي وي۔ دغه خو مې دَ جمعې دَ ورځې خبره اوکړه۔ دَ دې نه علاوه دَ پېنځو نمونځونو دَ پاره هره ورځ پېنځه ځله اذانونه ځان له جدا يوه قيصه ده۔ هر مؤذن دَ خپلې خوش آوازۍ نمائش کوي۔ او دا ئې کوشش وي چې دَ بل مؤذن آذان شورو شوے نه وي يا چې دَ مؤذن آذان ختم شوے وي او زۀ آذان شورو کړم چې ډېر خلق ما واؤري او زما دَ آواز تعريف اوکړي۔ دَ دې خودنمايۍ په وجه دَ يو وخت اذانونه تقريباً دَ يوې ګهنټې پورې وخت واخلي۔ او خلقو له مازغۀ په ښۀ توګه شنۀ کړي۔

دا هر څۀ چې کيږي په دې کښې زما لاس ضرور وي او دا ځکه چې په دې کښې زما ډېر مقصدونه پټ دي۔ اګر چې ماته ترې ذاتي تکليف هم وي خو دغه تکليف زما دَ منصوبې دَ اهميت نه کم حيثيت لري۔

دَ حضرت بلال رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه په دېخوا دَ هغه زمانې پورې چې دَ لاؤډسپيکر استعمال نه وو شورو شوے، زۀ به دَ آذانونو نه لرې تښتېدم۔ او دا ځکه چې په آذان کښې به يو خوا انتهائي اخلاص وو۔ بل به پکښې ښکاره ده چې دَ الله تعالٰی لوئي بيانېده او بل دا چې دَ اخلاص، ايماني قوت او دَ مؤذن دَ بِلاواسطه يعنې سوچه آواز په وجه به آذان په خلقو ډېر مثبت اثر کولو۔ دَ الله تعالٰی لوئي بيانېدل او په خلقو ئې مثبت اثر کېدل زما بالکل خوښ نه وو۔ په دې وجه به زۀ دَ آذان نه لرې تښتېدم چې دَ اورېدو نه ئې نه اورېدل ښۀ دي۔ کله

چې دَ اذان دَ پاره دَ لاؤډسپیکر استعمال شورو شو نو اوس ئې زۀ صرف او صرف دَ شور نه لرې تښتم ـ او دا په دې چې ما په لکونو کاله دَ الله تعالیٰ عبادت کړے دے، موحّد ووم او موحد یم ـ زۀ یوه مهذبه هستي یم ـ مهذب خلق دا قسم شور قطعاً نه شي برداشت کولے ـ دَ لاؤډسپیکر دَ اذان نه یواځې زۀ نه تښتم، فرشتې ترې هم تښتي ځکه چې هغوي مهذبې هستئ دي او دَ شور آلودګي نه خوښوي ـ مونږ او فرشتې چې کله دَ لاؤډسپیکر دَ اذان نه تښتو نو مونږ په فرشتو پورې خاندو او فرشتې په مونږ پورې خاندي ـ

زما ښاغلیو، غېرتمندو، ننګیالو، جنګیالو مشرانو، پېغلو او ګلالو ځلمو! تاسو ته ستاسو پوهانو دا وئیلي دي چې خانداني منصوبه بندي دَ ښکلي او فراخه ژوند دَ پاره انتهائي ضروري ده ـ کوم خلق چې په خانداني منصوبه بندۍ عمل نه کوي هغوي دَ ژوند دَ خوشحالۍ او ترقۍ نه محروم وي ـ زۀ په حیثیت دَ یو شېطان هم دَ خانداني منصوبه بندۍ په حق کښې یم ـ ځکه چې زۀ غواړم چې ستاسو دنیا دې په تاسو جنت شي ـ په خانداني منصوبه بندي عمل کول څۀ ګران کار هم نه دے ـ بس یو څو روایات دي چې هغه ژوندي ساتل غواړي او یو څو روایات دي چې هغه ختمول غواړي ـ ډاکټري علاج ته هیڅ ضرورت نشته ـ

کۀ چرې تاسو خپل زوړ کلتور خپل زاړۀ قبائلي روایات او دستور په خپل اصلي شکل کښې ژوندي اوساتئ او هیڅ قسم کمي بېشي پکښې اونه کړئ نو دَ دېنه

به په اعلی طریقه دَ خانداني منصوبه بندۍ مقاصد ترلاسه شي۔ او ستاسو دنیا به جنت شي۔ کۀ چرې تاسو خپل قبائلي ننګ، غېرت برقرار اوساتئ او په جنګ ربړو کښې دَ بزدلۍ، او بې ننګۍ نه کار وانه خلئ۔ نو یقیناً چې دَ آبادۍ په کمولو کښې به ډېر لاس اوشي او خانداني منصوبه بندي به پرې ډېره وده اوومومي۔ جنګ دَ جنتي ژوند دَپاره ډېر ضروري عمل دے۔ کوم څوک چې دَ جنګ نه ویرېږي هغوي دَ تنګدستۍ او غلامۍ په ژوند کولو مجبور وي۔ کۀ چرې تاسو دَ خپل پخواني قبائلي دؤر دَ مشرانو غوندې خپلو بچو ته دَ ننګ، غېرت او جنګ ترغیب باربار ورکوئ نو امید لرم چې ستاسو دَ اولاد نه به زمري جوړ شي او هیڅکله به بیا چاته په نرمۍ کښې جواب نه ورکوي۔ دَ دې قسم زمرو آبادي چرې هم زیاتېدو طرف ته نه ځي۔ او دَ کوم قام آبادي چې کمه وي نو ښکاره ده چې جنتي ژوند به تېروي۔

په ابادۍ دَ قابو موندلو دَ پاره بله اهمه خبره داده چې کومې ښځې په یو ځل لس یا دولس مړونه کول اوغواړي او هغوي دَ دېنه منع نه کړے شي بلکه حوصله افزائي ئې اوشي نو ظاهره ده چې خانداني منصوبه بندي به پرې ډېره وده اُومومي دغه شان کۀ همجنس پرستو ته حوصله ورکړے شي نو آبادي دَ زیاتېدو نه بچ پاتې کېدے شي۔ دَ زلمي، توریالي او جنګیالي نوي کُول دَ پاره دَ موټرسائېکل استعمال دَ ابادۍ په قابو کولو کښې انتهائي لاس کوي۔ کۀ یَو بُوډا مړ شي نو صرف یو کس مړ شي خو کۀ یو زلمے دَ حادثې ښکار شي نو دَ مستقبل پوره یو خاندان کالعدم شي او هم دَ دې نه دَ زلمي کول دَ پاره دَ موټرسائېکل دَ استعمال

اهمیت په ډاګه کیږي ـ دَ یو سړي دَ پاره دَ یوې ښځې نه زیاتې کول خانداني منصوبه بندۍ ته نقصان رسوي ـ جنګ، ربړې نه کول، اولاد ته دَ غېرت په ځائې دَ شرافت او بېغېرتۍ ترغیب ورکول، خپل زاړۀ قبائلي روایات پرېښودل، دَ خپلو بعضو مشرانو اقوال هېرول (مونږ خو جنګ ته خوشحالیږو) خانداني منصوبه بندي دَ ناکامۍ سره مخ کوي ـ چې په نتیجه کښې پرې ستاسو جنتي ژوند په جهنمي ژوند کښې بدلیږي ـ خدائې، رسول، او آخرت دَ ذهنونو نه داسې اوباسئ ځنګ چې ستاسو بعضې سیاسي مشرانو دَ ذهنونو نه ایستي دي او خپل ژوند ئې جنتي کړے دے ـ زۀ غواړم چې ستاسو دنیا دې هم په تاسو جنت شي ـ

زما ننګیالو، ګلالو اوربدونکو! ستاسو دَ ژوند هر یو کار یوه لوبه ده ـ یعنې تاسو لوبو له پیدا یئ ـ لوبې لوبغاړو ته خوشحالي، اطمینان او فرحت بخښي ـ یعنې په اصل کښې تاسو خوشحالۍ او فرحت خپلولو له پېدا یئ ـ ادب، تحقیق، سائنس، ټېکنالوجي وغېره ټولې لوبې دي ـ چې دَ خوشحاله او مصروف ژوند دَ پاره ضروري دي ـ دَ دې په رڼا کښې زۀ دا وایم چې هر هغه کار کوئ کوم چې تاسو ته خوشحالي درکوي ـ دَ ځنګل دَ ځناورو دَ ژوند تماشه اوکړئ او دَ ژوند تېرولو چل ترې زده کړئ ـ زمرے هوسۍ اوخوري او بیا لوبې کوي ـ مګرمچھ غوا مېښه اوخوري او تقریباً شپږ میاشتې لوبې کوي ـ ماشومان خوراک اوخوري او بیا لوبې کوي ـ دَ دنیا هر ژوندے بل اوخوري او

بیا لوبې کوي۔ تاسو هم صرف او صرف په ځان نظر اوساتئ او لکه دَ بعضې سیاسي شېطانانو غوندې بل خورئ او بیا عېش کوئ۔

زما ګلالو، توریالو او ننګیالو اورېدونکو! تاسو په پردۍ دنیا کښې پېدا یئ۔ تاسو په داسې ځائې کښې پېدا یئ چې پکښې هیڅ اختیار نه شئ لرلے۔ تاسو داسې ځائې پېدا یئ چې ستاسو او ستاسو دَ بنګلو، چمنونو، هنرونو، سائنس، ټیکنالوجي، ایجاداتو او مصنوعاتو دَ پائېدارۍ او بقا پکښې هیڅ ضمانت نیشته۔ تاسو په ډېر بې اعتباره ځائې کښې پېدا یئ۔ په دې بې اعتباره ځائې کښې دَ خپل مختصر او بې اعتباره ژوند نه دَ خوندونو پورته کولو کوشش اوکړئ ځکه چې کۀ یو غټ شهاب ثاقب یا سیاره په زمکه رااولوېږي نو نه به بیا تاسو یئ، نه به مو بنګلې او چمنونه او نه سائنسي کرشمې۔

په دې بې اعتباره ځائې هیڅ اعتبار اونه کړئ۔ او دَ دې مختصر ژوند په ښائسته کولو کښې زما تعاون حاصل کړئ۔ زما دَ تعاون حاصلولو طریقه دا ده چې خپل قیمتي ووټ ماله راکړئ۔ زۀ به تاسوله داسې طاقت او داسې آزادي درکړم کومه چې تاسو اکثر په خوب کښې یا په تصوّر کښې وینئ۔ تاسو به ښۀ په آزادۍ خپل ناخوښه خلق وژنئ او هیڅوک به په تاسو دَ ویرې ګواهي نه شي

کولے ځکه چې تاسو به طاقتور یئ ـ ستاسو آزادي به یوه مکمله حقیقي او لامحدوده آزادي وي ـ څۀ چې غواړئ هغه به کولے شئ ـ ستاسو په دې قسم لامحدوده ازادۍ کښې دَ وطن دَ ترقۍ رازونه پټ دي ـ قتل وغارت کۀ ظاهري ناکاره کار ښکاري خو په حقیقت کښې دا دَ وطن دَ پاره ډېر خېرونه او فائدې لري ـ کۀ یو قاتل شل کسه مړۀ کړي نو زما په حکومت کښې به هغه ته سزا نه شي ورکولے بلکه هغه ته به انعام ورکړے کېدے شي ځکه چې کۀ هغه یو طرفته یو جرم اوکړو خو بل طرفته هغه دَ ابادۍ په کمولو کښې غټ لاس هم اوکړو چې دَ وطن معاشي بوجھ پرې سپک شو ـ داسې قاتلانو ته به زۀ دَ سر (Sir) خطاب ورکوم ځکه چې دا نمونه کارنامې ننګیالي، توریالي او جنګیالي زلمي سر ته رسولے شي ـ بې ننګه او بزدل خلق دَ دې قسم کارنامو نه لرې اوسي ـ دَ انساني حقوقو دَ تنظیمونو مې هم دې طرفته فکر کړے دے ـ هغوي هم اوس لږ لږ ښۀ شوي دي او دَ " قتل سزا قتل " نه خلاف شویدي ـ هغوي پوهه شویدي چې دَ مقتول دَ حقوقو نه دَ قاتل دَ حقوقو خیال زیات غوره دي ځکه چې مقتول په انساني تعریف کښې نه راځي او قاتل مُسَلّم انسان وي او دَ انساني حقوقو تنظیمونه دَ مُسَلّم انسانانو دَ حقوقو تحفظ کول غواړي ـ

دَ انسان په جذباتو کښې دوه جذبې انتهائي طاقتورې دي ـ په هغو کښې یوه دَ غصې جذبه ده او دویمه جنسي جذبه ـ دَ دې دواړو جذبو تسکین چې اونه شي، دَ انسان په صحت ډېر خراب اثر پریوځي ـ دَ انسان دا دوه جذبې زما ځکه ډېرې خوښې دي چې دا دواړه جذبې کله بېدارې شي نو دَ انسان عقل

مفلوج کوي. جنسي جذبه دَ غصې دَ جذبې په نسبت عقل زيات مفلوج کوي. او کله چې دَ انسان عقل مفلوج شي، بيا دغه انسان زما ډېر په کار راتلے شي. عقل چې مفلوج شي نو انسان هغه قسم کارونه سرته اورسوي دَ کوم چې دَ دې نه وړاندې هغه دَ کولو تصّور نه شي کولے.هم دغه وجه ده چې دَ انسان دَ پاره عقل ډېر نقصاني دے. دَ عقل خاوندان بُزدِل، محتاط او شکيان وي. بزدل او شکي سړے چرې هم آزاد ژوند نه شي تېرولے. دَ عقل خاوندان دَ دې اهل نه وي چې دا دنيا دَ ځان دَ پاره جنت کړي. ځکه خو خوشحال خان خټک په يو شعر کښې دَ ننګيالو، توريالو، او جنګيالو زلمو کردار څۀ داسې بيان کړے دے.

په جهان دَ ننګيالو دي دا دوه کاره
يا به اوخوري ګَېرَۍ يا به کامران شي

بس صفا خبره ده چې يا مړ شه يا دا دنيا په ځان جنت کړه. او دا کار صرف دَ ننګيالو نه دے بلکه دَ هغه پوهه خلقو هم دے کوم چې دَ فطرت په بنيادي فلسفه پوهه دي.دَ بزدل خلقو نظريات مسترد کړئ. دغه قسم نظريات او افکار ستاسو په خېر کښې نه دي. لکه صوفي شاعر عبدالرحمٰن مومند چې وئېلي دي.

کوم مارغۀ چې دَ بل غوښه خوري مردار دے
ځان حلال کړه لکه زاڼه شاهين مه شه

زما دَ خبرو اهميت به تاسو ته هله ښکاره شي کله چې ستاسو په مشاهده کښې داسې خلق راشي کوم چې يو خوا دَ امن چغې اوباسي او دَ امن علمبردار دي او بل خوا دَ بعضې شاعرانو دَ جنګ ترانې، دَ جنګ شاعري يعنې رزميه شاعري ډېره زياته خوښوي او په مينه ئې لولي .دَ دې نه علاوه دغه خلق مړزان جنګوي، سپي جنګوي، اوښان او بانګيان جنګوي او خوند ترې اخلي. په کورونو کښې دَ خپلو ښځو سره په معمولي معمولي خبرو غېر معمولي جنګونه کوي. جرمنيان په هټلر فخر کوي. دَ سمرقند عوام په اميرِ تيمور فخر کوي، عراقيان په حجاج بن يوسف او منګول خلق په چنګېز خان او هلاکو خان فخر کوي او داسې نور .دا ټولې هغه خبرې دي چې دَ انسان فطرت، دَ قدرت منشاء او زما دَ نصيحت حقانيت په ډاګه کوي.

ما تاسوته وړاندې ځوځو ځله دا خبره کړېده چې دَ بعضو مشرانو دَ امن خبرو تاسو دَ ګمراهئ ښکار کړي يئ. دا قسم بعضې مشران تاسو ته هغه خبرې زده کوي کومې چې دَ فطرت يعنې دَ حقيقت سره هيڅ سمون نه خوري. او کوم څۀ چې دَ حقيقت سره سمون نه خوري هغه دَ پرېشانئ، غمګينئ او دَ فساد باعث کيږي. کۀ تاسو فکر اوکړئ نو قدرت تاسو دَ يوې هنګامې په صورت کښې په رِحم (Womb)کښې داخل کړئ دَ هنګامې دغه صورت حال ته دَ حقيقت په ژبه کښې جنګ وائي. په رحم کښې تاسو په مفرد شکل کښې نه بلکه دَ رِحم (Womb) په مېدانِ جنګ کښې دَ اجتماع په شکل داخل کړے شوي وئ. ځکه چې جنګ دَ اجتماع کار دے. يو کس دَ ځان سره جنګ نه شي کولے. په دغه رِحم

(Womb) یعنې مېدان جنګ کښې ستاسو سره ستاسو په زرګونو خویاندې وروڼه په جنګ وو ۔ چې دَ رِحم (Womb) په مېدانِ جنګ کښې تاسو دَ خپلو زرګونو خویاندو وروڼو په قتلولو کښې بَرے اوموندو نو تاسو دَ رِحم (Womb) دَ مېدانِ جنګ نه دَ دنیا مېدانِ جنګ ته راغلئ ۔ یعنې په تاسو کښې هر یو کس دَ یو چیمپئن (Champion) (میرمېدان) په حیثیت دنیا ته راغلے دے ۔ اوس دُنیا یو داسې مېدانِ جنګ دے په کوم کښې چې ستاسو غوندې دَ مختلفو میدانونو چیمپئنز (Champions) جنګیږي ۔ اوس کۀ تاسو په حقیقت پوهه یئ نو درته به معلومه شوي وي چې تاسو دَ دنیا مېدانِ جنګ ته راغلي یئ او داسې به څوک وي چې په مېدانِ جنګ کښې به دَ امن، دوستئ او شرافت خبرې کوي ۔ په مېدانِ جنګ کښې به په نره جنګ کوې ۔ تښتې به نه ۔ ځکه چې دلته ژوند دَ بل په قتل کښې وي ۔ دلته دَ عدم تشدد، امن، دوستئ او شرافت خبرې کول دَ خپل ژوند نه دَ لاس وینځلو عین مترادف وي ۔ دَ جنګ په مېدان کښې دا قسم دَ بزدلئ خبرې دَ هغه خلقو کار دے چې خپل قومي غېرت ترې هېر شوے وي ۔ یا دَ هغه خلقو کار دے څوک چې دَ خپلو قدیمو مشرانو نافرماني او سپکاوے کوي ۔

کۀ بادشاهانو دَ امن، عدم تشدد او شرافت خبرې کولے نو هیڅ یو بادشاه به په حیثیت دَ بادشاه نه وو پاتې ۔ او نه به ورته دَ عېش، مستئ، خمار او رومان ژوند نصیب شوے وو ۔ او نه به ورته دَ هیجړاګانو خوندور صحبت نصیب شوے وو ۔

ګورئ زما دوستانو! ستاسو په جسم کښې دننه هم دَ موافقو او مخالفو قوتونو په مېنځ کښې مسلسل جنګ روان دے . ستاسو دَ جسمونو سره دَ مختلفو ګېسونو، جراثيمو، موسمونو او دَ داسې نورو قوتونو جنګ هم روان دے يعنې ستاسو جسمونه په داخلي او خارجي توګه دَ جنګ سره مخامخ دي. دَ دې نه علاوه ستاسو سوچونه فکرونه او ايمانونه هم دَ مخالفو سوچونو فکرونو سره په جنګ دي. دَ دنيا په مېدان جنګ کښې ټول ژوندي دَ يوبل سره په جنګ دي يو بل خوري او خپل ژوند برقرار ساتي. دَ ارتقاء قانون هم دَ جنګ پلوي دے. دغه شان تاسو په حيثيت دَ انسانانو په خپلو کښې هم ډېر مسائل لرئ. دغه مسائل په مذاکراتو او افهام وتفهيم حل کول ستاسو بې فائدې او بې ثمره هلې ځلې دي. ستاسو دَ پاره دَ مسائلو واحد حل جنګ دے ځکه چې ستاسو دَ وُجُود ابتدا دَ جنګ په ذريعه دَ رِحم (Womb) مېدانِ جنګ ته او بيا دَ دنيا مېدانِ جنګ ته شوېده. دَ حقيقت نه سترګې پټول ستاسو په خېر کښې نه دي. ژوند دَ جنګ دويم نوم دے مسئله دَ ژوند نه پېدا کيږي او په جنګ ختميږي. دَ خپل ماحول سره ځان جوړ کړئ. قدرت هم دَ ماحول سره ستاسو جوړېدل خوښوي. ګناه دا نه ده چې تهٔ دَ خپل ماحول دَ حالاتو سره ځان جوړ کړې بلکه ګناه دا ده چې تهٔ ماحول ته دېوال شې. ځکه چې ماحول خو ستا پېداوار نه دے ماحول خو قدرت جوړ کړے دے. او دَ قدرت په کار کښې مداخلت کول دَ خودکُشۍ مترادف وي. زهٔ په حيثيت دَ شېطان به تاسو ته يوه خبره رښتيا په دې غرض هم اوکړم چې زما تقرير پرې ښکلے او مؤثر شي او هغه دا چې مسائل

دَ جنګ نه بغېر په مذاکراتو هم حل کيږي خو په شرط دَ دې چې معاشره دَ يو خاص قسم انسانانو وي۔ او دغه خاص قسم انسانان جوړېدل دَ نن دَ انسانانو دَ پاره ناممکن ځکه ښکاري چې پيرياني شېطانانو او انساني شېطانانو پکښې ډېر کار کړے دے۔

په حقيقت کښې انسانان په درې قسمه دي۔

(1) محض انسان: دا دَ انسانانو هغه قسم دے لکه تاسو۔
يعنې په کومو کښې چې جِنّةِ وَالنّاسْ خپل پُوره کار کړے دے۔
دَ دې قسم ننګيالو، توريالو، جنګيالو، اَو ګلالو هره مسئله په غېرت جرأت يعنې په جنګ حل کيږي۔

(2) انسان انسانيت ته نژدې: دا دَ انسانانو هغه قسم دے په کوم کښې چې جِنّةِ وَالنّاسْ دَ کار کولو په حواله خاطر خواه نه دي کامياب شوي۔ دَ دوي مسئلې کله په مذاکراتو او کله په جنګ حل کيږي۔

(3) انسان انسانيت ته رسېدلے: دا دَ انسانانو هغه قسم دے دَ کومو چې دَ مسائلو حل ته څۀ قسم ضرورت نه وي پاتې۔ ځکه چې په دوي کښې مسائل دَ سره وجود نه لري۔ دا خلق پېغمبران، دَ هغوي دوستان، دَ هغوي صحيح وارثان او نور داسې انسان دوست خلق کوم چې دَ دنيا دَ مکروفرېب، منافقت، چلبازۍ، عياشۍ او بدمستۍ نه ناواقف خلق دي۔ دا هغه خلق دي په کومو چې

ما او زما نورو شېطانانو ملګرو ډېر مخلصانه محنت کړے دے چې دَ دوي دنیا جنت شي خو افسوس چې مونږ په دې خپل پاک او مقدس کار کښې ناکامه او نامُرامه ثابت شوي یُو ـ زۀ غواړم چې زۀ دې انسانانو ته هغه لارې چارې اوښایم او دَ هغه څیزونو دَ خپلولو په لړ کښې دَ دوي مدد اوکړم دَ کومو څیزونو غوښتنه چې دَ دوي نفس کوي ـ یعنې غواړم چې دَ دوي دَ خواهشاتو تکمیل اوکړم ـ او تر ډېره حده ماته دَ دوي دَ خواهشاتو په حقله معلومات هم شته ـ چې دوي څۀ غواړي او څۀ خوښوي ـ ځکه چې دَ دوي او زما په خوي او مزاج کښې یکسانیت ډېر دے ـ زۀ پوهېږم چې ډېر خلق داسې شته چې هغوي ځانونه مُتکبر او مغرور خوښوي او دغه زما مزاج هم دے ـ دغه شان خلقو ته زما نصیحت دا دے چې زما په تقلید کښې ستاسو دَ تکبّر ارمان پُوره کېدے شي ـ زۀ دَ یو متکبّر په حېث ځکه مشهور شوے یم چې یَو خو ما ښۀ په نره او ښۀ په غېرت دَ خدائې نافرماني کړېده ـ او بله دا چې ما وئیلي وو "آدم دَ ختې نه جوړ دے او زۀ دَ اور نه ـ په دې وجه زۀ دَ آدم نه غوره یم ـ نو بیا ولې زۀ آدم ته سجده اوکړم" حال دا دے چې زۀ دَ پخوا نه پوهه ووم چې ختہ هم په حقیقت کښې اور دے ـ کۀ دَ ختې سائنسي تجزیه اوشي نو په ډاګه به شي چې ختہ دَ اور یو قسم دے ـ یعنې زۀ دَ اور دَ یو قسم نه جوړ یم چې لمبه ورته وائې او آدم دَ اور دَ بل قسم نه جوړ دے چې ختہ ورته وائي ـ دَ اوبو اجزاء هم کۀ په سائنسي طریقه تجزیه کړے شي نو معلومه به شي چې اُوبۀ هم په حقیقت کښې دَ اور نه جوړې دي ـ دَ دنیا هر یو ذي روح او بې روح مخلوق خدائې پاک دَ اور نه پېدا کړے دے ـ دا خو ما دَ

تکبر او دَ خدائې سره دَ مخاصمت دَ پاره یوه بهانه جوړه کړې وه ـ ځکه چې زهٔ پوهېدم چې زما دَ شهرت خواهش په دې پوره کېدے شي چې زهٔ دَ یو عظیم ذات سره دښمني شورو کړم ـ دا یوه نمونه ما انسانانو ته پېش کړېده چې کهٔ شهرت غواړئ نو دَ غریبانانو، مفلسانو او کمزورو سره دوستي یا دښمني مه کوئ ـ په دې سړے بد ښکاري ـ دوستي او خصوصاً دښمني دَ زورورو خلقو سره کوئ ـ ځکه چې دَ دې دواړو اثر به په تاسو یو شان وي ـ په دې به تاسو ته داسې شهرت حاصلیږي څنګ چې زهٔ په هر ذهن، هر مذهبي کتاب او په هره زمانه کښې دَ هر چا نه زیات مشهور یم ـ دَ غریبانانو یعنې دَ جاهلې طبقې سره چې څوک دښمني کوي ـ زهٔ پرې خفهٔ کېږم دَ هغې وجه دا ده چې یو خو دَ دوي تعداد ډېر وي یعنې دا زما غټه ډله ده او دویم دَ غریب ذهنیت په وجه دغه خلق په اسانه زما په کار راتلے شي ـ خو بل طرفته دَ دوي سره دَ خپلو ملګرو دوستي هم نه خوښوؤم ځکه چې دَ غریب سره په دوستۍ یو خو سړے بد ښکاري بل دَ سړي رعب، غرور او تکبر ته پرې سخت نقصان رسي ـ زما ښهٔ دوستان هغه خلق دي کوم چې دَ شهرت وږي وي، دَ تکبر خواهشمند وي او دَ غریبانانو په شمېر کښې دَ اضافې په لړ کښې لاس کوي ـ غریبه او مفلسه طبقه چې په وطن کښې څومره زیاتیږي دَ وطن ترقۍ ته او دَ وطن بعضې امیرې او حاکمې طبقې ته ترې ډېر خېر رسي ـ دَ دې غریبې او مفلسې طبقې زلمي او پېغلې دَ امیرانو او حاکمې طبقې خدمت او مزدوري کوي ـ کهٔ مړهٔ شي یا قتل شي نو افسوس پرې څوک ځکه نه کوي چې یو خو ورته دَ پردي خدمت مزدورۍ، کنځلو او وهلو ټکولو نه خلاصے په لاس

ورشي او بل ترې خانداني منصوبه بندۍ ته ډېره فائده اورسي۔ او کۀ مړۀ یا قتل نه کړے شي نو دَ امیرانو او حاکمې طبقې دَ خدمت کار پرې روان وي۔ غریبه او بې وسه طبقه دَ امیرانو دَ پاره په بل اړخ هم ډېره ضروري ده او هغه دا چې کله بعضې جاګیردارو او سرمایه دارو خلقو ته غصه ورشي نو دغه غصه په غریبانانو سړه کړي او امیران دَ غصې دَ امکاني مرضونو نه بچ شي۔ غریبه طبقه او څاروي دَ وطن او دَ وطن دَ اصلي واکدارانو دَ پاره یوه ښۀ سرمایه وي۔ کۀ دوي دَ کار وي نو کار ترې اخلي او کۀ کمزوري، بیمار یا ضعیف شي نو په څۀ طریقه ئې ختم کړي۔ دَ دوي په ختمولو کښې څۀ قانوني مشکلات مخې ته نه راځي ځکه چې دا خو معلومه ده چې خپل څاروے کۀ څوک ذبحه کوي او کۀ ئې ساتي دَ چا پرې څۀ کار نه وي او نه څاروے په عدالت کښې دَ خپل حق دَ تپوس پوښتنې اهل وي۔ دوي له خو صرف معمولي غوندې خوراک ورکوه او بیا کۀ ئې وژنې او کۀ څوک پرې وژني، ستا خوښه ده۔ غریبه او بېوسه طبقه په کچه کورونو او جونګړو کښې ژوند کوي دا کچه کورونه او جونګړې په غېر موزون ځایونو کښې دَ بعضو جاګیردارو دَ خاص منصوبې لاندې جوړ شوي وي په دې وجه په زلزله، طوفانونو او سېلابونو کښې زرګونه کورونه جونګړې او په زرګونو غریبانان تباه شي۔ دا تباهي دَ دغه قسم امیرې طبقې دَ پاره دَ ګیدړسینګي نه کمه نه وي۔ دغه امیران دَ غریبانانو دَ دې عظیمې تباهۍ په بهانه دَ بهرحسّاسې او رحمدلې دنیا نه په اربونو ډالرې دَ امداد په نوم ترلاسه کړي او دَ خپلو مقاصدو دَ تکمیل دَ پاره ئې په آزاد مټ پکار راولي او بیا دَ بلې

منصوبې په غرض دَ نورو غريبانانو سره دَ نمائشي همدردۍ په هنر په غېر موزون ځايونو کښې جُونګړې جوړې کړي ـ اوس جاګيرداره او سرمايه داره طبقه دَ بل سېلاب په انتظار وي ـ زۀ په حيثيت دَ شېطان دَ دغه قسم اميرانو په دې قسم کردار دَ هغوي په نسبت زياته خوشي محسوسوم ځکه چې دَ دنيا نه دَ جنت جوړولو په لړ کښې دَ دغه قسم اميرانو دا قسم کارنامې ډېرې ګټورې ثابتيږي ـ دا بعضې اميران خو ځکه اميران وي چې دوي ډېر په ايماندارۍ سره زما په نقشِ قدم تلۀ کوي ـ دوي ته ما سبق ورکړے دے چې دَ فوري ترقۍ دَ پاره بدي ډېر ضروري عمل دے ـ دَ نېکۍ په لاره هم ترقي نصيب کيږي هيڅ شک پکښې نشته خو کومه ترقي چې دَ بدۍ په ذريعه په يوه ورځ کښې کيږي هغه ترقي دَ نېکۍ په ذريعه شل دېرش کاله اخلي ـ يو داسې ارب پتي قاتل چې دَ مرګ سزا ورته اورولے شوې وي ـ او څوک ئې په خپلو رسوخو، دروغو او منافقت دَ سزا نه بچ کړي نو دومره دولت به اوګټي چې دومره دولت هغه په حلاله طريقه په سل کاله کښې نه شي ګټلے ـ داسې په سوونو مثالونه دي چې په نېکۍ باندې دَ بدۍ برتري ثابتوي ـ کوم خلق چې ځان ته دَ انسانيت علمبردار وائي دَ هغوي دا نظريه ده چې "امن نېکي ده او جنګ بدي ده ـ دَ امن نه په نړۍ کښې خېر خوريږي او دَ جنګ نه شر" خو په حيثيت دَ شېطان زۀ دَ دغه نظريې نه بېخي خلاف يم ځکه چې زۀ په کوټلو دلائلو دا خبره ثابتووم چې جنګ دَ خېر سبب دے او امن دَ شر ـ کۀ چرې چينايان دَ قديم نه امن پسند نه وے او دوي دَ خپلې امن پسندۍ علامت "ديوارِ چين" نه وے جوړکړے چې ګوندې مونږ

چاسره جنګ نه کوو خو چې په مونږ پسې دَ دېوال نه دېخوا څوک دَ جنګ دَ پاره را نه شي ـ نو ولې به نن چين دَ ابادۍ دَ زياتوالي دَ يوې غټې سردردۍ سره مخ وو ـ چين ته دَ ابادۍ دَ زياتوالي دا غټه سردردي دغې دَ امن علامت "ديوارِچين" جوړه کړې ده ـ امن پسندۍ چين ته دغه ثمره ورکړې ده ـ

بل طرفته محترم هټلر صېب، جناب هلاکو خان صېب، عزت مآب چنګېز خان صېب، ښاغلي اميرِ تيمورصېب، اعلىٰ حضرت ظلِّ الله حجاج بِن يوسف صاحب او داسې نورو په سوونو غېرتيانو، ننګيالو، جنګيالو او ګلالو بادشاهانو کۀ مقدّس جنګونه نه وے کړے نو ستاسو څۀ خيال دے چې زياتې ابادۍ به نن دَ نړۍ سره څۀ حشر کړے وو ـ

خبره دا ده چې تاسو ته دَ نېکۍ او بدۍ تعريف غلط ښودلے شوے دے ـ په حقيقت کښې دَ نېکۍ او بدۍ تعريف دا دے چې هر هغه عمل او اِراده، سلوک او رويّه چې ستا دَ خپل ذات دَ پاره دَ خوشۍ، راحت او اسائش وجه جوړيږي، نېکي ده او دَ دې ضد بدي ده ـ دَ دې تعريف په رڼا کښې به تاسو پوهه شوي يئ چې عياشي، بدمستي، رشوت، بدعنواني، دَ مال ، جائېداد او ښکلې ښځې دَ خپلولو دَ پاره قتل يا قتلونه، يا دَ دې څيزونو دَ پاره سياست، پېشوائيت، امامت، قيادت ټول دَ نېکۍ په زُمره کښې راځي ـ دَ دې بنيادي وجه دا ده چې دَ داسې کارونو نه دَ ابادۍ په کمولو کښې ډېر لاس کيږي ـ په دې وجه زۀ تاسو ته نصيحت کوم چې تاسو نېکان جوړشئ او دَ

بدۍ نه لاس واخلۍ په دولت ایمان راوړئ ځکه چې دَ دولت په برکت تاسو په غټو ذاتونو کښې حسابېدے شئ۔ غټ خلق به ستاسو سره رشتې کوي په تاسو به فخر کوي ځکه چې دولت به تاسو غټ کړي يئ۔ هيڅ کمال هيڅ لياقت او اهليت قابليت دَ دولت مقابله نه شي کولے۔ کۀ تاسو ګډې وډې خبرې کوئ خو دَ دولتمندۍ په برکت به خلق ستاسو دا ګډې وډې او بکواس خبرې دَ حکمت او فلسفې خبرې ګڼي۔ کۀ تاسو غل خورئ خو خلق به وائي چې حلوا خوري۔ کۀ تاسو مرګونه جوبلې کوئ خلق به وائي چې دا غېرتي، ننګيالي، توريالي، ګلالي زلمي دي۔ تاسو ته به په وړو وړو کارونو دَ حکومت له طرفه غټ غټ ايوارډونه ترلاسه کيږي۔ ورځ به مو اختر او شپه به مو شوقدر وي۔ دَ دې برعکس کۀ تاسو دولت پېدا نه کړو يعنې په دولت مو ايمان را نه وړو نو تاسو به دَ هر قسم لياقت، قابليت، کمال او عظيم صلاحيتونو باوجود په سپکو او بې عزتو خلقو کښې شمارېږئ۔ ستاسو سره په دوستۍ او خپلولۍ به غټان خلق شرميږي۔ خپلوان به درته خپلوان نه وائي۔ دَ دوستانو نه او دَ انصاف نه به محروم ژوند تېروئ۔ کۀ تاسو دَ علمونو کتابونه اوليکۍ۔ کۀ نوي نظريات وړاندې کړئ۔ کۀ دَ زوړ دۀړ په غلطو رسوماتو تنقيد اوکړئ۔ کۀ دَ علم هنر او نورې پوهې عام کولو دَ پاره خپل ژوند وقف کړئ خو خلق به په تاسو لعنت وائي خلق به وائي چې دا فضول خلق دي۔ ستاسو هره خبره به خلقو ته بکواس ښکاري۔ کۀ تاسو حلوا خورئ خلق به وائي دا غل خوارۀ دي۔ دولت خپل غرض اوګڼئ۔ دَ خوشحاله ژوند دَ پاره ډېر بنيادونه دي چې يو

پکښې خودغرضي ده. خپلې خودغرضۍ له وده ورکړئ ځکه چې دَ هر څۀ په مقابله کښې خپل غرض زيات قيمتي او زيات خوږ وي. څوک چې دَ خپل غرض سره دوست نه شي دَ هغه نه به زۀ يا بل څوک دَ دوستۍ څۀ توقع اولري. خودغرضي چې په چا کښې نه وي هغه دَ ځاروي نه هم بدتر دے ځکه چې هر ځاروے دَ خپل غرض سره وفادار وي. خپل غرض دَ هيچا په غرض باندې مه قربانوئ. "اول ځان وروستو جهان" غلطه خبره ده. صحيح خبره داده "اول ځان او آخر ځان". قدرت انسان ځکه خودغرضه پېدا کړے دے چې خودغرضي ښۀ صفت دے. دَ جنتي ژوند دَ پاره خودغرضي اهم ترين عنصر دے.

کۀ پوهه شوي يئ نو زما ښودلي نښکي خپله کړئ او زما دَ ښودلې بدۍ نه ځان اوساتئ. او زما دا يوه فلسفه په ذهن کښې محفوظ کړئ چې دَ اصل، نسل، ذات، رنګ او ژبې دَ امتيازاتو ختمولو واحد علاج دولتمندي ده. دَ خدائې په مقابله کښې زما تابعداري ستاسو دَ پاره سُودمنده ده. خدائې ښېشکه چې تاسو له جنت درکوي خو نسيا. او زۀ تاسو له نقد جنت درکوم. په نقد او نسيا کښې فرق ښکاره دے. زر ده چې تاسو به زما احسانات محسوس کړئ. ستاسو بصيرت به رڼا شي او زۀ به درته دَ مُلا په اداګانو کښې، دَ پير په دعاګانو کښې، دَ مُريد په ګداګانو کښې، دَ شاعر په شعرونو کښې، دَ مصور په تصويرونو کښې، دَ موسيقار په سازونو او سُرونو کښې، دَ قائد په قيادت کښې، دَ وطن په سياست کښې، دَ خطيب په خطابت کښې، دَ قاضي په قضاوت کښې، دَ دربار په سخاوت کښې او دَ پوپ په زنګ وهلي حاکميت کښې ښکاره

او ځلېږم. زۀ ستاسو نه په غرورر او تکبر دا سوال کوم چې دَ خپل ښکلي او آزاد ژوند په خاطرِ ووتې ماله راکړئ او دَ خدائې، رسول، علماءحق او صوفياء کرامو هدايات او فرمودات مکمل دَ ذهنونو نه اوباسئ. دغه شان به زما دَ بدنامۍ سلسله هم ختمه شي او تاسو به هم نېکنام پاتې شئ.

زما سرتېرو ورونو! زۀ تاسو ته دَ خپل تقرير آخري خبره دا کوم چې تاسو پوهېږئ چې دا سائنسی دور دے. ستاسو دَ استعمال زيات څيزونه سائنسی دي. دَ سائنسی مصنوعاتو دَ استعمال دَ پاره سائنسی ذهنونه پکار وي. دَ نن زلمي، پېغلې او ماشومان دغه سائنسی څيزونه ډېر په اسانه استعمالوي. لکه رنګ رنګ موبائيل سيټونه، کمپيوټر، انټرنيټ، ډش ټی وی وغېره وغېره. ليکن مشران خلق دَ دې څيزونو په استعمال بالکل نه پوهېږي. دَ دې نه دا خبره په ډاګه کيږي چې دَ نوي کُول په مقابله کښې مشران ډېر ناپوهه دي. او زۀ اميد لرم چې تاسو به دَ دې حقيقت نه انکار نه کوئ چې دَ نن مشران دَ نن دَ تقاضو نه نااشنا او لاعلمه دي. په دې دليل زۀ تاسو ته دا نصيحت کووم چې چرې هم دَ مشرانو په نصيحت يا مشوره عمل او نه کړئ چا چې دَ مشرانو په نصيحت عمل کړے دے هغوي دَ ذلت ښکار شوي دي. هغه معاشره به خامخا دَ ذلّت ښکار کيږي چې هوښياران ئې دَ بېوقوفانو په نصيحتونو عمل کوي. البته دَ هغه مشرانو په نصيحت عمل کول مونږ شېطانان ستاسو دَ پاره زيات خوښوو کوم

چې تاسو ته دَ خپل زوړ قبائلي دَوُر دَ ننګ، غیرت، توزنې، سرتېزې یا دَ داسې نوروسپېڅلو روایاتو سبق درکوي. یا تاسو ته دَ خپل زوړ کلتُور دَ سُوچه ساتلو ترغیب درکوي. او په زوړ کلتور کښې دَ جدّت او اضافې سخت خلاف وي. دا هغه مشران وي چې ستاسو وقار برقرار ساتل غواړي. او تاسو دَ کُونډه برېتو او سرو سترګو سره خوښوي. ستاسو نه زمري او شرمخان جوړوي. هغوي غواړي چې زمونږ دَ قام هر زلمے دې هلاکوخان، چنګېز خان او امیرِتیمور شي. ولې تاسو دَ ځنګل تماشه نه ده کړې چې ځنګلي ځناور څومره په چل او هُنر ژوند کوي. ولې تاسو ترې دومره سبق نه اخلئ چې ژوند دَ چل، هنر، فریب،منافقت، چالاکۍ، او بې حیایۍ پۀ خپلولو کښې ممکن دے. چې بل مو تېرباسي دا خپل زوال اوګڼئ. چې بل تېرباسئ دا خپل کمال اوګڼئ. دَ دې برعکس چې څوک ایمانداري، دیانت داري، صداقت، خاکساري او داسې نور ناوړه اوصاف خپلوي، هغوي چرې هم دَ امن، سلامتیا او خوشحالۍ ژوند نه شي کولے. شرم وحیا، انسانیت، اخلاق هر څۀ پرېږدۍ او دَ دولت ګټلو حربې خپلې کړئ. خپل عزت قربان کړئ او ډېر دولت اوګټئ. په دولت کښې عزت دے. په عزت کښې دولت نشته.

دَ خدائې بندګي، دَ رسول اِطاعت او دَ علماء، صوفیاء مطابعت هغه خنډان دي کومو چې په خلقو دنیا تنُور کړې ده. دا تنُور دُنیا کۀ ستاسو دَ پاره څوک په فردوسِ بَرین او فردوسِ زېرین کښې بدلوي، هغه بل څوک نه دي هغه صرف او صرف زۀ یم. کۀ دَ عقل دَ فساد نه خبر یئ او دَ شېطان دَ عنایاتو قائل شوي یئ

نو ووتړ ماله راکړئ۔ بس دا زما اولنے تقریر وو ۔ دویم تقریر به درته دَ 2014 ء نه پس کوم او بیا به درنه اوپوښتم چې له سره څو پخیږي۔

فقط: ستاسو خېرخواه غوندې دښمن اِبلیس، عزازیل المعروف به شېطان "۔

دَ شېطان دَ تقریر ختمولو سره سم دَ شېطان زنده باد او شېطان پائنده باد دَ نعرو یو شور په فضا کښې خور شو ۔ اوجلسه ختم شوه ۔ شېطان سترګه اووهله او مُوسکے مُوسکے خپل ځائې ته مطمئن روان شو ۔

عبدالرحیم روغانی سوات

موبائل نمبر: 0346-3383906